د لوی استاد اروابناد علامه پوهاند عبدالحي حبيبي د تولسیم تلین په وياړ!

# پښتو

# او

# پښتونواله

پوهاند علامه عبدالحی حبيبي

۱۳۸۲ لمریز کال

Download from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کـتاب نوم : پښتو او پښتنواله

ليکوال : علامه پوهاند عبدالحی حبيبي

ټولوونکې : بېنوا فرهنگي ټولنه

چاپکال : 1382ل/ 2003م کال

خپرندويه : بېنوا فرهنگي ټولنه

چاپشمېر : پنځه سوه ټوکه

کمپوز/ ډيزاين : جبار ترنگ

کمپيوټرچارې : بېنوا فرهنگي ټولنه

د خپرونو لړ : لومړی

Download from: ketabton.com

## زموږ یادښت

بېنوا فرهنګي ټولني د خپل تاسیس له مهاله دا پلان او آّرمان درلود چي نوموړې ټولنه به یو مرکزي خپرونی ارګان لري، د ځوانانو، ښځو او نورو اړینو مسایلو په اړه به نوي خپروني لري، بوختوونکي او ارزوونکي پروګرامونه او غونډې به جوړوي، کتابونه به خپروي او . . . .

له دې جملې څخه یې ګڼ شمېر غونډې جوړې کړې چي محسوسي او ګټوري پایلي یې لرلي دي، مرکزي خپرنی ارګان (ښکلا مجله) یې تر دې مهاله پنځمي ګڼې ته رسولې ده او دا دی خپلو سترو آّرمانونو ته د رسېدو پر لار یو بل د خیر ګام پورته کوي او د لومړي ځل لپاره د هیواد او نړۍ د نامتو او نابغه لیکوال، پوهاند علامه ارواښاد عبدالحي حبیبي یو ډېر په زړه پوري او ګټور اثر (پښتو او پښتنواله) خپروي.

دا اثر هغه نسبتاً اوږده مقاله ده چي په پرله پسې توګه د (کابل مجلې) د 1354ل کال په ټولګڼه(کلکسیون) کي خپره شوې ده چي د پښتنو قانون (پښتونواله) یې په خورا عالمانه، ژوره او بېساري توګه څېړلی او پښتنو و نړۍ ته یې ورپېژندلی دی.

دا چي نوموړې لیکنه له یوې خوا په خپل ډول کي ډېره نوې بڼه درلوده، چي باید په یو ځایي ډول د هر چا لاس ته رسېدلې وای او له بل پلوه بېنوا فرهنګي ټولني وغوښتل چي د ارواښاد د نولسم تلین په اړه او همدارنګه د تبرك لپاره د خپلو خپرونو د لړ د لومړۍ ګڼې په توګه دغه ډېر ګټور اثر خپور کړي، ځکه نو د ټولني کارنده او ځیرك مرستیال ښاغلي عبدالجبار ترنګ د سترګو په رپ کي په ډېره لېوالتیا سره دغه بېساري ارزښتمنه مقاله سره یوځای، ترتیب، کمپوز، ډیزاین او سمه کړه او دا دی د یوه کوچني خو په منځپانګه ډېر بډای کتاب په توګه یې ستاسو درنو لوستونکو لاسونو ته در رسوي، هیله ده چي وړ ګټه به ځني تر لاسه کړئ.

همدارنګه دا یادونه هم کوو چي بېنوا فرهنګي ټولنه غواړي چي دغه د کتاب خپرولو لړۍ د مهربان اللهج په مرسته وغځوي، چي په دې کار کي موږ د درنو فرهنګپالو او پښتومینو یارانو لاسنیوي ته سخته اړتیا لرو، ځکه وایي چي له یوه لاسه ټك نه خېژي، نو کتاب، مجله او لیکنه برابرول یې پر موږ د چاپ ځواني تاسو وکړئ؛ که داسي وشي، نو ان شاأّلله د ګوډ فرهنګ پښې به مو بیا روغي او د نړۍ سترګي به یې ننداري ته را واوړي.

تر همداسي یوه مهال پوري

د خدای (ج) په آّمان!

اداره

13/4/1382ل_ کندهار

Download from: ketabton.com

# ټولـــــنه يا اجــتماع

په دې لاندې کرښو کې زه د خپل وسه سره سم د پښتو اجتماعي روحيات، پسيکولوژي او عقليت څه نه څه څرګندوم او هغه شيان چې د پښتو او پښتنوالي څلي ځني اوځاريږي، تر څېړنې لاندې نيسم:

ټولنپوهان يعنې اجتماعيون او د اجتماع علما Sociologists وايي: ټولنه يا اجتماع په موجوداتو کې يو خاص ناموس دی، چې هيڅ شی له دې څخه نسي وتلای، يو ژوندی جسم که انسان وي، که حيوان، که کوچنی ذره بيني مکروب، دا ټوله له خورا وړوکو کيمياوي ټوټو څخه جوړ سوي دي، او دا ټوټې له هغو بېخي کوچنوټو ذراتو څخه مرکبې دي، چې په پښتو يې كك او په عربي يې جوهر فرد او په اروپايي ژبو يې atoms بولي، دا ککونه په طبيعت کې د ټولنې خاصيت لري او دغه خاصيت يو د بل سره نښتون د ژوندون حرکت پکښې پيدا کوي. کوچني او لوی ژوي(حيوانات) ټوله په دغه اجتماعي خاصيت د ژوندون مجموعې لري، چې د دوی اجسام ځني ترکيب سوي دي، لکه د ژونديو شيانو اجسام چې د ژوند له مجموعو څخه جوړيږي، دغسې هم هر جسم او هر فرد له نورو سره نښت او يو ارتباط لري، په خزندو او چنجيانو او لويو حيواناتو کې هم دا خاصيت سته، هغه حيوانات چې نباتات خوري، بېلې ډلې لري او الوتونکي هم شخړ_شخړ الوزي، پيلان په زنګلو کې تر 150 پوري يو ځای په ټولنه کې ګرځي، دغسې هم نور هګان يعنې وحشي حيوانات لکه د افريقا بېزوګاني توکم_توکم دي او يوه نوعه بېزو چې سيرکوپيتيکوس cercopithicus نوميږي ډله_ډله د خپلو مشرانو تر اداري لاندې ژوندون کوي، مشر يې ګوماري يا يې ژغوري، ګوريلا او بابون تر دې لا ښه اجتماعي ژوندون لري .

مګر انسان خو په يوه مصنوعي او عقلي اجتماع کې ژوندون کوي، او دا خپل اجتماعي حيات هم تر يواځني ژوندون ښه ګڼي او اجتماعي نظامات او افعال يې پر مقايسه او استدلال او استنتاج ولاړ دي. پرته له دې څخه د انسانانو ځيني وحشي قبايل هم د ټولنې روح لري، هره ټولۍ يې له څو کورنيو څخه جوړه سوې، لکه د استراليا، جنوبي افريقا او سيلان ځيني ټولنې .

د موجوداتو دغه حال ته چې څوك ځير سي، نو داسې ورته ښکاره کيږي، چې "ټولنی ژوندون" د انسانانو دپاره طبيعي او حتمي دی او زړو پوهانو چې انسان مدني يې بالطبع باله، هم مطلب دغه و، چې اجتماعي احساس يې پر طبيعت او خاوره ور اخښلی سوی دی او د ده د ژوندون لوازم او اړتياوې هم په يوازيني ژوندون کې نسي بشپړېدلای، د خپل ژوندون دپاره اړ دی، چې د نورو کومك او مرسته ځانته ومومياو د ټولنې په سيوري کې ځان وژغوري

په حقيقت کې د انسان سعادت او کمال او نوري ټولي ښېګړي په اجتماعي ژوندون کې حاصليږي او د ژوندون ټوله مزايا هم بېله اجتماع لاسته نه راځي، ولي چې انسان د نورو په مرسته د ژوندون فوايد او منافع لاس ته راولي او د سعادت ژوندون ته رسيږي او يو انسان يوازې او بېل ټوله ښېګړې نسي ميندلای

Download from: ketabton.com

## پښتـــو او اجـــــتماع

پښتون ملت خو د تاريخي تحقيقاتو له پلوه هغه زاړه آرياانان دي، چي دا څو زره كاله پرله پسې په دغه خپله ځمكه "پښتونخوا" كي پراته دي، په پښتنو كي تر اوسه هغه د آريانانو زاړه خواص او تاريخي مزايا ليدل كيږي، په اجتماعي حالاتو كي، خو دا يوه منلې خبره ده چي كورنۍ د ټولني منشا ده او د اجتماعي ژوندون زده كړه او وده هم لومړى په كورنۍ كي كيږي، اجتماعي عواطف او د ټولني د ورورګلوۍ سپېڅلي احساسات، خو لومړى په كورنۍ كي زېږي .

نو كورنۍ د ټولني يوه كوچنۍ نمونه ده، ډېري كورنۍ بيا سره يو ځاى سي او يوه ټولۍ ځني جوړه سي، ډېري ټولۍ چي سره ونښلي، نو يو اولس ځني روغ سي، ډېر اولسونه نو ملت تشكيل كي، لكه پر جغرافي وېش چي هم له ډېرو كورنيو څخه يو ښار او له ډېرو ښارو څخه يو ولايت او له ډېرو ولاياتو څخه بيا يو مملكت جوړ سي.

دا خو يو طبيعي عام اجتماعي ناموس دى، چي د پښتنو ټولنى ژوندون هم پر دغه پيلامه ټينګ دى، په پښتنو كي"كورنۍ" خاص اهميت درلود او ډېري كورنۍ چي ځانته يې خصوصي عقلي او ادبي او اولسي امتيازات درلوده، دغه خپل وضعيت يې پښت تر پښته ساتلى، كوم ځلمى كه د ننګيالو ټبر ته منسوب و، هغه به ضرور ننګيالى راوتلى، تر كورنۍ وروسته (پښه) خپل كام (زى) نور مراتب وه، چي په پاى كي نو ټوله په پښتون ګډېده او دا ټوله كورنۍ، ټبرونه، د پښتون ملت اجتماعي شعبې وې، چي د اجتماع په علم كي "سلاليه ټولنه" ورته وايي او داسي ټولني د خپلوۍ، تناسل په رابطه جوړيږي او د دوى وينه او پښت هم تقريباً يو وي.

په سلاليه ټولنو كي دوه ډوله روابط سته، چي ځيني پر مندو سره وېشل كيږي او ځيني پر پلرو، پښتانه خو هغه قبايل دي، چي پر پلرو سره وېشل سوي دي، او "ابوت" پلارګلوي د دوى د وېش سټه وه، د پښتنو "اسماْ الرجال" به تاسي ته ښه ښكاره سي، چي هره ټولنه بېل پلار لري، او دا پلرونه په پاى كي ټوله د پښتون په لوى پلار ګډېږي او په دوى كي د پلار د قبيلوي وېش مسلسل عنعنات سته .

په زړو آريانانو كي هم، لكه چي داسي وېشونه وه، وكتوګيګر

W. Geigerالماني محقق مستشرق ليكي چي پخوانو آريانانو هم داسي قبايل درلوده، چي سره خپل به وه.

په زړه اوستا ژبه كي ويس Vic او دغسي هم د هند په رګويدا زاړه كتاب كي دغه كلمه د كورنۍ او ټبر او قبيلې په معنا راغلې ده، د ايران د داريوش د بېستون په ليكو كي (لومړى ټوك 65 وينا) كي هم د ايران زړې لس قبيلې ذكر سوي دي.

Download from: ketabton.com

د اوستا او رگویدا چي د آریانانو زاړه کتابونه دي، د (ویس) کلمه کټ مټ د پښتو اوسنۍ کلمه (دیس) ده، چي په هغه زړه معنا په پښتو کي ژوندۍ او فقط (د) یې په (و) بدل سوی دی . دال او واو ډېر سره اوړي، مثلاً کندهار کي وایي کښېښوول، ننګرهار کي وایي کښېښودل، دوکتور ګوستاولوبون د زړو آریانانو د کورنۍ په بحث کي لیکي:

"چي پخوا د دوی د ژوندون او معاشرت اساس په کورنۍ ټینګ و، ټوله خلق خپلو پلرو او نیکونو ته منسوب کېدل، بلکي دوی د خپلي کورنۍ پرستش کاوه او کوزده او تولد او تناسل یې مذهبي مبارك دودونه ګڼل، نو له دې جهته چي د دوی پښت پاته سي او ټبر یې ډېر سي، زوی پر دوی ډېر ګران او زېږېدل یې هم خوښي وه، د زوی نه درلودل یې د کورنۍ وراني او د پلرو د نامه ورکېدل ګڼل.

د هندي آریانانو په زاړه کتاب رګویدا کي هغه خوښۍ ذکر سوي دي، چي پخوا آریانانو به له خپلي کورنۍ څخه اخیستې، د رګویدا دغه جملې دلالت کوي، چي په دوی کي کورنۍ څومره قدر درلود:

"خـــدای تعالی د ژوندون واکمن دی

ما لك الملك دی، دې ښاغلي کورنـــۍ

سړو ته ورکوي، خدایه موږ ستا مربي یو،

بې اولاده بې ښېګړي مـــــو مه وژنې"

له دې لوړو تشریحاتو او تاریخي اسنادو تاسي ته ښکاره سوه، چي پخوا د پښتنو اجتماعي ژوندون پر کورنۍ بنا و او دا اجتماعي دود تر اوسه هم پکښي ټینګ دی.

دا څلور زره کاله چي دوی په دې خپلو ګرانو ځمکو کي په خپلواکۍ اوسېدلي دي، دا زبادوي، چي د دوی اجتماعي وحدت کلك او یو د بله د خطر پر وخت خورا متحد او سره یو وه، د دې دپاره لازمه ده، چي موږ تاریخ ته وګورو، په لاندي ویناوو کي به پر خپل ځای موږ مفصل مثالونه د تاریخ له مخو څخه در وړاندي کړو.

## وحیات؛ یا د ټولـــني نفسیات

طبیعي پوهان انسانان د رنګ پر اقسامو وېشي مګر اجتماعي فلاسفه ملتونه د روحیاتو پر اصولو سره بېلوي. دوی وایي چي هر ملت ځانته بېل فکري او عقلي او روحي ممیزات لري لکه د دوی جسماني خواص چي ګوښي_ګوښي دي، دغسي هم د دوی عقلي خصایص او روحي ممیزات سره بېل وي، دا خواص د دوی قومیت او ملیت جوړوي او هغه علم چي له دغو روحیاتو او ممیزاتو څخه بحث کوي پسیکولوژي Psychology یې بولي چي د افرادو جذبات

Download from: ketabton.com

او روحي کیفیات بېل او د ټولنو او مللو دا بېل څرګندوي چي اخلاق او خصایص او ګوښي دودونه او ځانته مشاعر او احساسات چي هر ملت یې بېل_بېل لري او هغه جذبات او ذهنیات او تصورات او اوهام او عقاید او نفسي چي یو ملت له بله بېلوي، دغو ته د ملت "اجتماعي نفس" یا ملي روح وایي د علم النفس او پسیکولوژۍ په اصطلاح خو "ټولنه" هغه بولي چي انفرادي مشاعر او احساسات یې په یوه مقصد پکښې غونډ او د "فکري وحدت" تر اصولو لاندي وي.

د ملتو دغه روحیات او اجتماعي نفسیات دي چي د دوی ټوله ښېګړې پورې تړلي او د هر ملت ثقافت او مدنیت هم له دغو څخه زېږي.

د هر ملت تاریخ د دوی د روحیاتو ښکاره کوونکی او د نفسي خصایصو هنداره، هره لوړتیا او برى او هر کښته توب او پرزېده چي یو اولس ته وررپېښېږي دغه د دوی د روحیاتو اغېزه او نتیجه ده. ګوستاولوبون وایي که انسان نابېره یوه پردي هیواد ته ولاړ سي لومړى شی چي دی یې هلتهویني د هغه قوم خپل خصوصي اخلاق او روحیات او مشترك جنسي صفات دي چي په ټولو وګړو کي څرګندیږي او دا ښیي چي هغه اولس ځانته یو بېل "روح" لري او اجتماعي نفس یې هم ګوښی دی.

د دې علمي خبري مثال د دنیا په ټولو ملتونو کي څرګند لیدل کیږي په ټوله دنیا کي یهودیان کاغ، طماع، ګټه خوښوونکي او روپۍ ټولوونکي دي. کورګاني توکمونه په تالا او یرغل او سخت ژوند ښه پوهیږي، کرنه او تجارت یې له لاسه نه راځي. د انګلیسانو په ملي روح کي متانت او کلکه اراده سته. امریکایان عملي روح ډېر لري. هندیان روحاني ژوند او تصوف افکار غوره کوي، دغه "خصایص بارزه" یا اخلاقي او عقلي نوامیس چي د ملت اجتماعي نفس څني جوړیږي حقیقتاً د ملتونو د ارتقا یا لوېدو سبب ګرځي او خورا درنې_درنې اغېزې هم لري

## د پښتـنو اجــــتماعي نفس او روحیات

لکه ټوله ملل چي ځانته خصایص او ملي روحیات لري دغسي پښتون هم یو بېل اجتماعي نفس لري چي دغه نو پښتانه له نورو ملتونو څخه بېلوي او د دوی د ملیت تېره پر مخصوصو اصولو باندې ایږدي د پښتون د ژوندون لاري، اداب، دودونه او د تفکر ډول او د ادب اسلوب او د خیالاتو او جذباتو رنګ بالکل له نورو مللو څخه بېل دی یو پښتون چي هر ځای وي دغه خپل خصایص دی له نورو څخه په پښتنواله بېلوي او د ده د پښتو روحي پلوشې هر ځای ځلوي، پښتانه ځانته بېل روحیات او ګوښي نفسیات او اجتماعي دودونه لري چي دغه ټوله موږ "پښتو او پښتنواله" بولو د پښتو او پښتنوالي توکونه او ارکان او نور لوازم او خصایص موږ د مخه د طلوع افغان د 1315کال

Download from: ketabton.com

په ګنه کي وروسته بیا د کابل په کالنیو کي هم پښتنو ښاغلو لیکوالو شرح ورکړې وه. زه دلته د پښتو او پښتنوالي ارکان او عناصر نه شمېرم او نه يې څېړم، غواړم د نفسیاتو او تاریخ له پلوه يې تحلیل کړم.

اجتماعي علماوو او د بشر د لوړتیا د فلسفو پلټونکي روحیاتو ته دومره ډېر اهمیت ږدي چي ګوستاولوبون لیکي:

"روزنه او نور ټول اړوونکي عوامل د انسان عقل او ادراك ته تغیر ورکولای سي اما روحیات يې نسي ور اړولای او روحي خصایص نسي ځني بېلولای هغه وخت موږ یو ملت له خپله حاله اوښتی بولو چي د ده ملي روح هم پر بله خوا وګرځي او ملي روحیات ځني ولاړ سي ".

زموږ ملي روح یعني پښتو او پښتونواله خو هم پر دغه علمي اساس په پښتنو کي خورا ټینګه ده. هغه عوامل او اسباب چي "ملي روح" په جوړېږي یعني د "پښتو او پښتنوالي" په بنیه کي موثر دي دوه شیه ډېر مهم دي چي موږ يې د پوهانو د اقوالو په استناد لاندي څرګندوو:

�وراثت

�محیط

## اتـــــاریزم

جلال بك نوري، یو تورك اجتماعي پیاوړی عالم وايي:

"دغه ملي روحیات او اخلاق او موروثه صفات او د نیکونو مزاج او طبیعت ډېر ځله زامنو ته په وینه کي راځي اوس تورکان داسي ډېر خویونه لري چي دوی له نیکونو څخه اخیستي دي، د ملتونو د انقراض او انحطاط او لوړتیا او کښته والي اسرار هم په اخلاقي توارث کي دي چي په فرنګي ژبه يې اتاریزم Atarism بولي. "

دا ملي روحیات او خصوص صفات چي د هر ملت د ښایست ګېنه یا ویاړ(عیب) ګڼل کیږي له پلرو او نیکونو څخه زامنو ته رانقلیږي او ورو_ورو ټوله وروستني پښتونه نیسي او سوکه_سوکه د ملت په ټول نفوس کي استقرار مومي.

د ملتونو صفات، لکه جسماني صفات ټینګ دي، او په وراثت سره پر یوه ډول تل له یوه پښته بل پښت ته ځي، د پلرونو او نیکونو آثار په روح کي د هر ملت دایم او کلك پاتیږي.

د هر ملت تاریخ او ژوندون، خاصه نظامات، آداب، فنون، فلسفه او د وطنیت جذبات، ذکاٌ، اخلاق او نور ملي خصوصیات د دوی له ملي پسیکولوژي، څخه زیږي او دغه پسیکولوژي هم په وراثتي اصولو جوړیږي، زمانه او محیطونه که د ملتو روحیات او د ژوندون لاري اړوي، په دغو تطوراتو کي هم د ملي روحیاتو اغېزه څرګندوي، خپل ارثي نظامات او تقالید ساتي او په الیشولو کي خورا سوکه وي په دې ډول ارث د یوه ملت د روحیاتو ټینګه سټه ګڼل کیږي.

Download from: ketabton.com

په پښتو او پښتنواله کي ارث لوی عامل دی، ډېر د پښتنوالي عناصر او ارکان موږ ته په ارث له پلرونو څخه پاته سوی دی، د زرو_زرو کالو اخلاق او ملکات اوس موږ په ځانو کي وينو. زاړه پښتانه، خو پر پښتو او پښتنواله ډېر ټينګ وه، د دوی ډېر ښه_ښه او غوره راسخ ملکات او نور خويونه پښت پر پښت زامنو ته رانقل سوي دي.

د مثال په ډول به زه دلته يوه تاريخي مطالعه تاسي ته وړاندي کم:

ډوکتور ګيګر الماني مشهور او معروف شرق شناس د زړو آريانانو پر اخلاقو داسي تبصره ليکي:

"دوی ته دا ښکاره وه، چي موږ له يوه ملته يو، نژادي او پښتي روابطو دوی په خپلو نيکو او پلرونو پوري نښلول، دوی خپله ژبه، دودونه او پښت مشترك سره باله، نو يې خپل ځان (آرين) بللی، چي معنی يې نجيب او شريف او اصيل ده، دوی هر ښه خوی او د خوښولو اخلاق د ځان مخصوص ارث ګاڼه او ځانونه يې لوړ بلل، پردو ته يې په سپکه سترګه کاته."

دې مستشرق په دې لوړو کلماتو کي کټ مټ د پښتنو سجيه ښکاره کړې ده، ملي غرور او د پښتنوالي ښاغلتوب او په دغو صفاتو کي وياړل د پښتو او پښتنوالي رکن دی.

اوس چي ځيني خارجي محققين راځي او د پښتنو د خويونو او روحياتو کتنه او پلټنه کوي، ټوله په پښتنو کي دا خاصيتونهويني، يو ايرانی مدقق ليکوال او نقاد په دې باره کي داسي ليکي:

"هر فرد افغاني اول خودش و بعد قوم افغان را برگزيدهٔ خدا ميداند، و هيچكس را در روی زمين، برابر افغاني نمي پندارد، كه اعتدال اين فضيلت را نگارنده برای ملت ايران ارزو ميكند، وقتي يك فرد افغاني طايفه و قوم خود را برای نگارنده ميشمرد، بياد سخن (داريوش كبير) افتادم، كه با چه لهجه پر از مباهات نژاد خودش را مينويسد . . . پارسي فرزند پارسي_ايراني فرزند ايراني "

په دې ډول، لکه ملي غرور چي له خورا زړې زمانې څخه پښتنو ته له نيکونو څخه ميراث پاته دی، او خارجي پوهان يې هم مني، دغسي نور ټوله د پښتنوالي عناصر په ارث راغلي، او د زړو پښتنو روح دی، چي اوس ځليږي، ملا عبدالباقي افغان څه ښه ويلي دي:

بل توکـــــــــم که د کافر مدح کوي له هر قسمه

نه پوهيږي، کل فرنګ دي د افغان تر سپي سي ځار

Download from: ketabton.com

## محيـــــــط

بل مهم عامل چي پښتو او پښتنواله يې کلکه کړې ده، چاپېر يعني محيط دی، محيط پرټولو موجوداتو او مخصوصاً پر روحياتو او د ملتو پر راسخو ملکاتو درنې اغېزې کوي، اخلاق، دودونه، جذبات، نفسيات او نور ټوله د انسان مادي او معنوي خواص او مزايا د محيط په اختلاف تغير خوري، هغه آريانان چي له پښتونخوا، يعني هندوکش، باختر او آرياکوسيا څخه ولاړه، د هند تودو مځکو ته ور شېوه سوه، هلته د دوی ټوله خواص هم وګګرځېده هغه چي په دغو غرو کي هلته پاته سوه، خصايص يې بېل دي او هغه آريانان چي ايران ته ولاړه بېل راسخ ملکات او روحيات يې په خپلو نوو مېنو او هيوادو کي کسب کړه، هنديان، پښتانه، ايرانيان د اروپا ډېر ملل، لکه جرمنی، انګليس، فرانس، ټوله آريانان ګڼل کيږي، مګر هر ملت پخپل هيواد او مځکه کي ځانته عقلي او روحي او بدني تطور وکړ. اوس چي موږ ورته ګورو له ورايه ښکاريږي، چي دا پښتون دی، هغه هندي، هغه فرانسوی دی، او هغه بل جرمنی دی.

دا ټوله د چاپېر مخصوص اثرونه دي، چي دا ملل يې سره بېل کړي دي. د مثال په ډول وايو د غرو او رغو د خلکو روحيات کلك او اخلاق يې متين او له رخاوته تش وي، د پښتنو د ژوندون چاپېر او جغرافي محيط او د هستوګي مځکي خو غرنۍ وي، نو ځکه د پښتنوالي په عناصرو کي هم داسي شيان ګډ دي، چي د دې ځايو د مېشتو وګړو سره ښايي د پښتنو جغرافي موقعيت خو په پخوانيو پېړيو کي هم داسي و، چي دوی به له خپله ځانه دفاع کوله، او د خپلو غرونو استقلال به يې ساته.

دې محيط چي ژوندون يې په دې ډول و، په پښتنو کي دفاعي روحيات او جنګي اخلاق او ملکات داسي قوي کړه، چي"توريالی توب" د پښتنوالي مهم عنصر و، په نورو څېړنو کي به تاسي ته د محيط د اغېزو نخښې په ښه ډول در څرګندي کړه سي.

## د پښـــتـــنو عقـليت او اخـــلاق

ډوکتور ګوستاولوبون پسيکولوژي پر دوه برخو وېشي :

.1عقليت.

.2اخلاق.

لاندي پر بېلو_بېلو خواوو باندي بېل_بېل بحث کوم، مګر لومړی دا څرګندوم، چي کوم عوامل پر عقليت او اخلاقو باندي اغېزه کولای سي؟

د ملتو پر عقليت او اخلاقو دوه شيه اغېزه کوي:

Download from: ketabton.com

.1فطرت.

.2محيط.

دا دوه شيه په ګډه یوه ګډه اغېزه لري او كه يو د بله سره بېل سي، نو هغسي اغېزه به يې نه وي، هيګل د المان مشهور فيلسوف او اجتماعي عالم(1770 � 1831ع) وايي، چي پر يوناني ثقافت او عقليت؛ طبيعت اثر نه درلود، ولي نور ملل د دوی په طبيعي محيط كي ولوېده، نو يې د يونان په راز عقليت او ثقافت مينده نه كړ، مګر نور اجتماعي علما دې خبري ته ټينګ دي، چي اجتماعي او طبيعي محيطونه دواړه د ملتونو عقليت او اخلاق تر اغېزي لاندي راولي، لومړی به د پښتنو پر عقليت او اخلاقو د دې دوو اثر ښكاره كو:

## طـــبيعي محـــــيط

طبيعي محيط د مځكي او د هستوګي د ځای جغرافي وضعيت دی. اوبه، هوا، غرونه، ډاګونه، رغونه ټوله بېل_بېل اثرونه لري، پښتانه خو د خپلو مځكو (پښتونخوا) په شنو غرونو او سرسبزو ډاګونو كي هستېدل د هلمند، ارغنداو، ترنك، ګومل، كابل او كونړ آباسين پر شنو او زرغونو غاړو مېشت وه، يا په داسي غرونو كي يې هستوګه وه، چي په ژمي په واوره اوپه دوبي په وښو او ځنګلونو پټ وه، دغه خلك به د ژمي له سړو څخه تښتېدل ناچاره وه، چي تودو خواوو ته ولاړ سي، پښتنو داسي اقوام "پووندہ" بلله او پووندہ د سړو غرونو او واورينو مځكو وګړي وه، چي په ژمي به تودو خواوو ته په ټولنه تلل، دې عامل پښتانه سره ګډ كړل، او د دوی روحيات او عقليت او اخلاق هم سره نژدې سوه، د ژبي بنيه يې هم ټينګه سوه.

دې د حركت روح په پښتنو كي د ډېر يون توان او د سفر د زحمتونو ګلول مينده كړل، پر غرونو، پر دښتونو، پر ځنګلو په زيار او ډېر مشقت تېرېدل او هر څه موانع به چي وه، له مخه يې ليري كول.

دغه د حركت روح و، چي د پښتنو اخلاقي بنيه يې داسي قوي كړه، چي وروسته د غزنوي او غوري او هوتكو فاتحينو او اعليحضرت احمدشاه بابا په فتوحاتو كي دوی په وارو_وارو شاوخوا ممالك د مېړو په څېر فتح كړل او هيڅ راز موانع يې حايل نسول.

د پښتنو طبيعي چاپېر د لمر په رڼو وړانګو ښكلی او په صافه هوا ډك و، دوی په داسي پاكو مځكو او غرونو او رغونو كي مېشت وه چي هلته بېله طبيعي دلچسپو مناظرو بل څه نه وه، روغتيا، طبيعي نشاط د قدرت د سپېڅلي ښايست ننداره دوی ته هر كله ميسره وه، نو د دوی عقل او اخلاق هم سپېڅلي ورزول سوه.

Download from: ketabton.com

## اجـــــــتماعي محيط

د پښتنو اجتماعي محيط، لکه د مخه چي مو هم وويل ډېر ټينګ مبادي او ځانته مخصوصي ښېګړي درلودې، د دې اجتماعي او طبيعي محيط آثارو، چي په دوی کي ځيني ملي دودونه پيدا سوه، پښتانه په ژوندون کي د متقابل احترام ډېر پر خوا دي، د يوه کام يا کهول يو سړی به د بل کلي يا بل کام خواته ولاړ، ژمی، واروه اوره، په کلي يا قبيله کي د مدنيت په ډول دکان او د غذا او خوړو يا د هستوګي ځای هم نه و، نو دې کيفيت پښتانه ناچاره کړه، چي د مېلمنو دپاره دېرې جوړي کي او په هر کلي کي د نورو قبيلو يا کهولو د مېلمنو د راحت دپاره دېرې او کوټې دي، ولي که سبا د دې کلي سړی ها بل کلي يا کهول ته ولاړ، نو بې هوري احترام هم کيږي، دې روح په اوږدو زمانو کي د مېلمانه احترام او روزنه داسي د پښتنو په عقليت او اخلاقو کي دننه کړه چي په پای کي به په کلي کي تر هغو چا د ماښام ډوډۍ نه خوړه، څو مېلمه نه وي ورغلی، دغسي هم لکه چي د مخه وويل سوه، کورني روابط خورا ټينګ وه، نو د يوې کورنۍ يا د يوه کلي يا قبيلې چي به يو سړی لېږدېدی، يا به بې وزلي کېدی، دې کيفيت خو د هغې کورنۍ يا کلي اجتماعي عزت او درناوی ور وراناوه، نو د پښتنو"بسپنه" يوه اجتماعي مؤسسه چي په نوې ژبه يې "اعانه" بولي، ملي دود سو. دغسي هم د پښتنو مځکي "پښتونخوا" په داسي ځای کي وې، چي د دنيا فاتحين ټوله پر دې خوا راتله، سکندر، مسلمانان، چنګېز، تېمور، بابر، نادرافشار ټوله په دغو مګځکو کي تېر سوه، نو پښتانه خو هم مجبور وه، چي له ځانه دفاع وکړي او خپله آزادي خوندي کي، د دې لپاره جنګي اخلاق په دوی کي قوي او "شجاعت" د دوی د روحياتو او اخلاقو ټينګ ټوك سو، د ميرځمنو په مقابل کي تل يو د بله وعده او وفا يې لازمه ده، دې خوی په پښتنو کي داسي اهميت وموند، چي پر وعده او وفا ځانونه بايلي. اوس چي موږ لږ څه د محيطو اثر پر عملياتو او اخلاقو ښکاره کی نو به لږ څه د دې شيانو اهميت هم څرګند کو، ګوستاولوبون وايي: "عقلي مزاج او فکري ساختمان هم په اولس کي متفاوت دي، عقلي خصايص او فکري ساختمان د هر ملت د تمدن او حيات عناصر ګاڼه سي، په عقلي خصايصو ملتونه يو له بله سره بېليږي او لکه بدني خصايص عقلي خصايص هم په سوالي نه اړول کيږي، هم دغسي دي. اخلاق چي د مليت ساتنه د او د ملتو عظمت او لوړتيا ټوله په دغو اړه لري، په ژوندون کي اخلاق دي، چي د انګليس کوچنی ملت يې پر ډېرو انسانانو حاکم کړی دی." رښتيا هم دا ده، چي د پښتنو خپل پښتنوالي روحيات او اخلاق وه، چي دوی يې لوړ کړي او د دوی ثقافت او بري يې خپور کړی و، زه به په لاندي ابحاثو کي په تاريخي او علمي دلايلو د لوړو ويناوو براهين وړاندي کم او د تېرو بحثو توضېح به وکم.

د پښتنو د عقليت او اخلاقو مظاهر ( ژبه ، شعر ، متلونه ، قصې ، عنعنات )

دا پنځه شيان په ښه ډول د ملتو د عقليت او اخلاقو يعني روحياتو نمايندګي کولای سي، ځکه چي دا شيان په ورو_ورو او په اوږدو_اوږدو زمانو کي د ملت له روحياتو څخه تراوش کوي، نو که څوك وغواړي چي د يوه ملت روحيات وپلټي، ښايي چي د دغو شيانو له پلوه هم ورته وګوري، ولي چي په دغو شيانو کي د پسيکولوژي، مهم مواد پټ پراته دي، زه به د پښتنو د روحياتو د پلټني دپاره پر دې ټولو بېله_بېله څېړنه وکړم.

Download from: ketabton.com

# ژبـــــــــــــه

ژبه د هر ملت پر عقلیت له دې پلوه دلالت کوي، چې په هر عصر کې د عقلي مظاهرو یو مهم مظهر ژبه ده، ولې چې ژبه په یوه پلا نه ده پیدا سوې او نه دغسې بشپړه اخلافو ته له اسلافو څخه راغلې ده، لومړی پلا خلقو پر خپلو اړتیاوو سم ځیني الفاظ جوړ کړه، چې نوي شیان مېندل کېدل، نوي کلمات هم ورته جوړېده، چې شیان ورکېده، نو نومونه یې هم له منځه تله، نو په دې راز هره ژبه د یوه مستمر مرگ او ژوندون په مرحلو کې ځي، دغسې هم د ژمې اشتقاقات او تعبیرونه د هغه ملت د لوړتیا سره سم وده کوي، مثلاً که د فرانسوي ژبې یو د سلو کالو د مخه د لغتو کتاب وکتل سي، نو به د راډیو او تلوېزیون نومونه نسي پکې پیدا، دا خبره نو پر دې دلالت کوي، چې فرانسویانو هغه وخت دا شیان نه پېژانده.

په دې ډول هره ژبه د هغه ملت پر عقلیت ښه رڼا اچوي او د هر مملکت د طبیعت او محیط اثر پکې کېږي، پښتو ژبه هم د دغو ټولو عواملو تر اغېزې لاندې ده، پښتانه خو د غرو او دښتو خلق وه، دوی له بحره لېرې پاته وه، ځکه نو بحري حیواناتو دپاره نومونه نه لري، بالعکس د دوی په ژوندون کې مالداري او پوندگي ډېره وه، حیاتیې په غیلو او د پسو په محصولاتو کاوه، نو د پسونو دپاره ډېر نومونه لري، هر راز پسه په اختلاف د نوع او عمر نوم پکې لري.

اوښ د دوی د حمل او نقل عمومي ذریعه وه، نو د دې حیوان دپاره هم په اختلاف د عمر متختلف نومونه سته، دا خو یې د اجتماعي محیط اثرونه وه، د طبیعي محیط اثر هم پر ژبه خورا ډېر دی، مثلاً پښتانه ډېر ځله په غرو کې مېشت وه، نو د ډېرو نومونه د اقسامو او اوزانو په اختلاف خورا په پښتنو کې ډېر دي: د طبیعي او مادي شیانو دپاره ډېر مترادف نومونه لري، مگر د معنویاتو او عواطفو او احساساتو دپاره ډېر کلمات نسته، ځکه په دوی کې پټه خوا سپکه او یو طبیعي او سپېڅلی ژوندون یې درلود، د سرور او لهو لعب او رفاه او نعمتونو نومونه لږ دي، ځکه چې دا شیان په پښتنو کې نه دي جوړ شوي، مگر د ویر او ناورین نومونه لري، د هجومي اقداماتو لپاره هم متعدد نومونه لري، ځکه چې پر دې ځمکو ډېرومتهاجمینو تعرضونه او تالاوي کړي دي.

له اخلاقي پلوه هم ډېر بد اخلاق په پښتنو کې نه وه، نو ځکه د هغو نومونه، هم نسته.

مثلاً: دله او دیوث په پښتنو کې نوم نه لري چې دا فعلونه نه وو، نو یې نومونه هم نسته د غرو د اقسامو بېل_بېل نومونه سته ولې چې د پښتنو ژوندون د غرو سره و.

د کږدۍ هر دیرك بېل_بېل نوم لري، ځکه چې په دې د پښتنو روزمره ژوندون و.

هغه کلمات چې قوت او قدرت پکې پروت دی،سته، لکه غښتلی، پیاوړی، گړندی، زغرده، اما د ضعیف دپاره موضوع کلمات لږ دي، یا نسته! ولې چې پښتنو ضعیف لږ لیدلي وو، ټوله غښتلي او توریالي وه.

Download from: ketabton.com

د طبیعي مناظرو او موجوداتو دپاره ښه_ښه نومونه لري، ځکه چي د قدرت د لاس ښکلي شیان د دوی تر سترګو لاندي وه، رڼا، وړانګه، پلوشه، رڼه(ضیأ) مختلف ډولونه دي، د بارانو دپاره څو نومونه سته، ولي چي د دوی مځکي باراني وې، پسته، ووز، هېښمه، وسه او نور اقسام لري. په مملکت کي لوړي ژوري ډېري وي، نو دې دوو حالاتو ته ډېر الفاظ سته، لوړ، بر، پورته، هسك، پاس، اوچت، جګ(بلند)، کښته، کوز، شېوه، ځوړ، ځوړ، لاندي(پائین) .

پښتنو پخپل اجتماعي محیط کي ځانته د ژوندون ځیني اصول درلوده، دا اصول (د پښتنو لیار) بولي او د پښتنو په لیار کي، جرګه، ننواته، بسپن او نور دودونه داسي ټینګ دي، چي ټوله یې مني.

دا خو د پښتنو قانوني اجتماعي نظام دی، چي د دوی پر اصولي عقلیت دلالت کوي او اقتصادي نظام یې بسپن تر قانوني کنترول لاندي راولي.

د پښتو د لغاتو او کلماتو مطالعه دا ښکاره کوي، چي پښتانه عقلاً او فکراً حقیقیون Realists یعني د خیالي او وهمي شیانو خوا ته یې لږ میل و، د دوی ادبیات هم ساده او سپېڅلي او طبیعي دي، خیالیت Idealism لږ پکښي ځلیږي، له ژبي څخه د پښتنو اخلاقي افکار هم څرګندیږي، مثلاً زهره هغه ستوری چي ماښام راخیږي، ځیني پښتانه یې (مېلمه سترګه) بولي، ځکه چي دوی به ماښام ضرور مېلمه ته منتظر وه او یوازي یې ډوډۍ نه خوړه، نو دا د ماښام سترګه دوی "مېلمه سترګه" وباله، یعني هغه سترګه چي دا راوخته، نو مېلمه هم راځي.

په دې ډول که د پښتو لغتونه او کلمات له روحي پلوه تحلیل سي، نو د پښتنو پسیکولوژي ښه ځني څرګندیږي، پخوانو پښتنو خو د حقیقت Realism خوا درلوده، خیالي نمونه یې نه وه ایښي، یعني هغه شیان چي د دوی د عقلیت دایره هم تنګه نه وه، ځکه چي سرفي مشتقات دومره ډېر دي، چي پر اکثرو انساني حالاتو باندي ښه دلالت کوي، او د دوی عقلي ارتوالی ښه څرګندیږي.

د پښتو ژبي تذکیر او تانیث چي پر افعالو او ضمایرو او کلماتو باندي جاري دی، دا راښیي، چي د پښتنو عقلیت هر شي ته په داسي سترګه ګوري چي هغه فطرتاً ورسره ښایي، د رجولیت احساسات په دوی کي قوي وي، ځکه نو مذکر له مونثه سره نه ګډوي نر ته بېل نظر لري، ښځي ته بېل. دقت او ښه پرتله کول او د هر شي تقدیر پر خپله اندازه استعمال یې پر خپله موقع، د ژبي له دې خاصیته ښه څرګندیږي او دا شیان، خو د عقلیت په تکامل کي هم لو برخه لري. الفردفوییه(1838_1912ع) فرانسوی د روحیاتو محقق لیکي، چي جرمنیان د احتیاج پر وخت ضروري کلمات جوړوي، کانټ او هیګل ځانته د ضرورت له پلوه ژبه جوړه کړېده عربي ژبه هم له دې خوا ارته سوې ده، نولډکه Noldke الماني مستشرق وایي چي د عربو شعراوو ډېر لغات په خپلو اشعارو کي په کوم تقریب په ځیني معناوو راوړي وه، وروسته لغت ټولوونکو خلقو پر دغو کلماتو د موضوعو الفاظو ګمان وکی او پخپلو کتابو کي یې درج کړه، مثلاً هیضم او هراس، چي د زمري په معنا یې راوړي دي، حال دا چي دا کلمې بېلي معناوي لري دا

Download from: ketabton.com

خاصيت تر يو اندازې په پښتو کي موږ وينو، د پښتنو اجتماعي او جغرافي محيط ډېري داسي کلمې ميندلي دي، چي اوس موږ د پښتنو د روحياتو په پلټنه کي ښه کار ځني اخلو، د مثال په ډول لاندي تشريح وګورئ:

پسله 616هـ کال پر آسيا د پرديو تاړاکونه او يرغلونه پيل سوه، چنګېز او زامنو يې لومړی پلا پښتونخوا او د دې ځای ودان ښارونه تالا کړه، وروسته ګوډ تيمور، د خپلو پلرو ياد تازه کی، وروسته بابر هم د پرديو ناورينونه نوي کړه، تر بابر وروسته د ډهلي د پرديو پاچهي د پښتنو سره سخت جنګونه وکړه، په وارو ـوارو د ډهلي د شاهنشاهۍ عسکر راغله او غوښته يې چي د پښتنو آزادي سلب کي، او دوی مريان کي، دا تاړاکونه پنځه سوه کلونه مسلسلاً پر پښتنو جاري وو، پښتنو پردي پاچهان خپل دښمنان ګڼل، ځکه چي پر دوی يې زيل ــزيل ظلمونه کړي وه، نو وروسته د پردي کلمه داسي سوه، چي د ظالم سره مرادفه يادېده دا کلمه هر ځای د غم او ناورين او ورانۍ او ظلم سره يو ځای سوه .

بالعکس، چي د پنځو سوو کلو دمخني پښتون ته پردي يا پرديواله کلمې ويلې وای، نو به ده د يوه ظالم، وحشي او ټولو انساني ښو صفاتو څخه عاري، يو سړی ګاڼه.

له دې څخه موږ ته څرګندېږي چي پښتانه پخپل خصوصي او ملي عقليت او اخلاقو کي په کومه درجه ټينګ او کلك وه او خپل مبادي او عقلي ساختمان يې خوښ او پر ګران و، نو دوی پوره اوګوئيست Egoists يعني پر خپلو ښېګړو مين دي.

سيد جمال الدين افغان وايي چي د پښتنو صوري هيکل او د تنديو کوتونه د دوی جسماني قوا او حماسي شوکت ښکاره کوي، دغسي هم د پښتو آهنګ او لهجه او د دوی ږغونه او د ژبي دروندوالی او صلابت يې دا راښيي، چي د دې ملت مزاج خورا کلك او دروند او غښتلی دی .

نو د پښتو ژبي آهنګ او فقه الصوف او ادبي ساختمان او وينايي جوړښت او د پښتو ويونکو خلکو لوړ روح او متين اخلاق راښيي او دا چي پښتو تر ظاهري ښکلو يا سره سمو کړو او پېيلو الفاظو ډېره معنا ته ګوري او د خبرو حقايق تر ظاهرو کلماتو دوی ته درانه او اهميت لرونکي دي، نو موږ د دوی ژور عقليت او حقيقت روزونکی فکر ځني معلومولای سو له دې جهته هم پښتنو په خپلو ملي اشعارو کي د پردو ملتو مصنوعي وزن او تول نه دی ننه ايستلی.

## شعـــــــــــر

د هر ملت اشعار د دی عقلي ژوندون ښه ښکاره کوي؛ اخلاق، دودونه، ديانت، عقليت او نور ټوله خصايص يې پکښې پراته وي، په شعر کي د ملتو اجتماعي نفس او روحي ساختمان او فکري بنيه داسي ښکاريږي، لکه هنداره.

Download from: ketabton.com

د پښتو په اشعارو کي د پښتنوالي مختلف مزايا ټ پراته دي او د پښتنو د طبيعي محيط او اجتماعي چاپېر يو صحيح مظهر دی، لکه د مخه مو چي وويل د پښتنو شعر هم لکه ژبه د دوی د حقيقي Realist عقليت نماينده ګڼل کيږي او هغه شعري نارې او ټولني او بدلي چي د پښتنو له کومو څخه راوتلي دي، د دوی د روحياتو خارجي صحيح او روښه مظاهر دي.

شعرا د ملت په افرادو او کورنيو او ټولنو کي ګډ وګړي دي، په هغه احساس چي نور وګړي متحس کيږي، يا هغه جذبات چي د ملت په زړه کي غورځنګ کوي، د شاعر روح هم کټ مټ د هغو تر اغېزې لاندي راځي، نو شاعران موږ د ملتو د افکارو او روحياتو او اخلاقو ښه ترجمانان او نمايندګان بللای سو.

د پښتو ژبي اشعار خو دوه ډوله دي، يو هغه اشعار او بدلي دي چي موږ يې لغړ او سپېګڅلی ملي مال بولو او بل هغه شعرونه دي، چي پښتنو شاعرانو د عربو او دري پر ډول ويلي، د دوی ادبي او عروضي او قافيوي اغېزه لري او په افکارو کي هم څه نا څه پردو اشعارو ته نږدې دي.

هغه اشعار چي د وزن او قافيې او نورو خصوصياتو له رويه بشپړ پښتو دي، هغه خو ټوله د پښتني عقليت او تفکر نتيجه ده، مګر هغه اشعار چي عروضي دي او د پردو پر اشعارو سم ويلي سوي دي، په داسي شعرونو کي هم د پښتنوالي عقليت اغېزه کړې او تر خپل ملي اثر لاندي يې راوستلي دي، دلته زه د خوشحال خان د کليات له مقدمې څخه څو کرښي ليکم، چي په 1317هـ ش کال کي مي ليکلي دي:

د پښتو شعر که څه هم په ډېرو شيانو او خواصو کي د دري او عربي اشعارو سره نږدېوالی او قربت لري، مګر بيا هم ځکه چي د محيط او قوم ذهني او روحي خواص پر ادب اثر لري، نو د خوشحال خان په کلام کي د پښتنوالي ډېر مزايا ليدل کيږي، د عشق دنيا او د ميني نړۍ يوه بېله دنيا ده د عاشق قلبي واردات او د ده تاثرات پر بل چا نه قياسيږي، مګر ملي خواص او اولسي مميزات هر کله په دغه دنيا کي هم اوڅاريږي او لکه ادب چي د روحي تجلياتو هنداره ده، دغسي ټوله ملي ښېګړي هم پکښې برېښي.

پښتانه خو په فطرت کي ملي غرور او د روح لوړتيا لري، پښتون هيڅکله په هيڅ ډول داسي خضوع نه کوي، چي د ده ملي غرور ته صدمه ورسيږي، شبلي نعماني په شعرالعجم کي ليکي، چي نسبت و پارسي شعر ته په عربي شعر کي هر ځای د نفس عزت او غرور ساتلی کيږي، مين که څه هم و خپل محبوب ته اړ وي او وصال يې غواړي، مګر دی د ګدا په څېر نه دی، البته جانباز دی، مګر غلام نه دی، د ميني مصيبت ته تيار دی، مګر ذليل نه دی، مثلاً يو عرب شاعر خپلي ميني ته داسي خطاب کوي:

فلا تحـــسبي اني تخشعت بعدکم

ولا انستي بالمشي في القيد اخرق

Download from: ketabton.com

یعني: "دا گومان مه کوه چي زه په تا پسې خاشع سوم او نه په بند سره زه له یونه پاتېږم"

بل ځای عاشق خپلي میني ته داسي وایي چي ضمناً د خپل قوم مېړانه او توریالیتوب هم ورښکاره کوي:

اذا اسود جنح اللیل فلتات ولتکن

خطـــاك خفاقا فان حراسنا اسدو

)عمر ابن ابی ربیعه(

یعني: "چي ماښام د شپې وزر توري شي نو راسه مگر ټپونه ورو__ورو ږده چي زموږ ساتونکي زمري دي"

مگر په پارسي شعر کي عاشق د میني په دنیا کي ځان دومره بایلي او بې خونده کیږي او د معشوق په مخ کي ځان دومره کښته کوي، چي ځان سپی هم بولي:

ســـحر امــــــدم بکویت بشکار رفته بودي

تو که سگ نبرده بودي به چه کار رفته بودي

د پښتو شعر (مطلب وروستني عروضي اشعار دي) که څه هم له یوې خوا شدیداً د پارسي تر اثر لاندي شوی دی، مگگر بیا هم د پښتنوالي د روح لوړتیا پکښې ښکاره کیږي او پښتون عاشق هیڅکله ځان نه سپکوي او خپل غرور او د نفس مناعت نه بایلي په هغو ځایو کي چي د نورو په تقلید څه ویل شوي دي، داسي اشعار بېل دي.

د خوشحال خان په کلام کي د پښتنوالي لوړ او ژوندی روح ښه ځلیږي، مثلاً په دې بیت کي د ځان لوړتیا په څه ښه ژبه محبوب ته ښیي:

مـــــــــــــرگ لره یې واړه د ډهلي لښکر راغلی

ته لا د خوشحال په مرگ ځان روغ نه گڼې ننگ کړې

سربازي او توریالیتوب په عشق کي هم د ده سره ملگري دي او کورټ ذلت او د تحقیر کار نه مني.

په درست جهان به نه وي یو د ما غوندي رسوا بل

ورځم توره وکـــــښلې چي مین واورم په تا بل

د پښتنو عشق هم ښکاره او سپېڅلی دی، پټ پټانه نه لري، په نره توره مینه کوي، د عشق په دنیا کي خو مین او معشوق ډېر د راز ساتنه او پټول خوښ لري، او نه غواړي چي څوك پر خبري سي:

Download from: ketabton.com

ز شـوق میروم و تو ننگرم در بزم

برای آنکه فتد غیر در گمان دگر

عاشق د اغیارو او رقیبانو له ببري د خپل محبوب حال هم په ښکاره نه پوښتي:

بهر مجلس که جا سازم حدیث نیکوان برسم

که حـــرف آن مه نامهربان را در میان سازم

مگر د پښتنوالي په دنیا کي دا پټ پټانی نه سته، د پښتنو روح خو غلي اقدامات یا حیلې نه مني د پښتون مینه او میرڅی رڼ بڼه ده، خوشحال خان هم وایي :

زه خوشحال کمزوری نه یم چي به ډار کړم

په ښـــکاره ناري وهم چي خوله یې راکړه

د پښتنو په روح او عقلیت کي پر ځان ویسا self-help په لوړه درجه سته، د دوی ځانوالی خورا قوي دی، د پښتون پسیکولوژي هم دومره ټینګه او کلکه ده، اساس او ولۍ یې پر "ځانوالۍ" ولاړ دی او خوشحال خان د پښتنوالي دا عالي روح په دې ډول ښیي:

د مـــزریو مـــړنتوب په لښکر نه وي

مټ یې هر کله یوازي پر خپل ځان وي

پښتانه د هر راز مشکلاتو په مخ کي ځان نه بایلي، په ثابت عزم خپل کار پر مخ بیایي، دا ثبات او استقامت د پښتنوالي عنصر دی، پښتانه نوي مبادي، په آساني نه مني، چي ویي منل نو یې بیا کورټ نه پرېږدي، خوشحال خان د پښتنوالي دا لوړ همت او ثابت عزم داسي راښیي:

که آسمان دي د مزري په خوله کي ورکي

د مـــزري په خوله کي مه پرېږده همت

لګنده یې دا چي د پښتنو شعر د دوی طبیعي ژوند او سپېڅلی خیال او حقیقت ته نږدې عقلیت او درانه او ثابت اخلاق اوڅاروي تر معنوي او وجداني خواوو حیاتي او ظاهري پلوونه رڼوي.

Download from: ketabton.com

## مـــــــــتلونه

زما دا عقيده ده، چي د متل کلمه سوچه پښتو ده، اما ځيني خلك وايي، چي دا له عربي مثل څخه مفغنه سوې ده، که دا دوهم قول ومنل سي، نو په مفغناتو کي د عربي "ث" په "ت" اليشه سوې ده، مثلاً ميراث چي مفغن يې ميرات دی، د مثل کلمه به هم متل سوې وي، د عربي لغاتو پوهان وايي چي مثل يعني مثل(مانند) او نظير وروسته دا کلمه په ټولو حکمتو کي مستعمله سوه، ځيني وايي دا کلمه له عبري مثل څخه جوړه سوې او پر ټولو حکمتو او لنډو قصو او اساطيرو اطلاقيږي په پښتو خو متل هغو لنډو ويناوو ته وايي چي د ښو معناوو او حکمتو څخه ډکي وي، په متلو کي ډېر ځله د ملتو د روحياتو خورا ښې_ښې نکتې پرتې وي، بلکي ځيني پوهان وايي چي تر شعر لا متلونه د ملتو پر عقليت ښه دلالت کوي، ولي چي اشعار د داسي خلقو له کومو راوځي، چي فکر او ذهن او عقليت يې تر عوامو لوړ وي، اما متلونه د عوامو له عقليته حکايت کوي او د متلو الفاظ لکه اشعار مصنوعي او معقول نه وي او د عوامو په ژبه وي.

نو متلونه د عوامو وګړو ږغ وګڼل سي او دلالت يې پر روحياتو تر شعر، ټينګ او د ويسا وړ وي، متلونه د ملتو د اجتماعي ژوندون او د دوی د عقلي هويت ښکاره کوونکي دي، په مختلفو اوضاعو کي د تجربې او ازميښتو نتيجې دي، چي په لنډو کلماتو کي ځای سوي وي. پښتنو متل کړی دی چي "پردۍ ښې نيمه خوا دي" يا "پردی کټ تر نيمو شپو دی" له دغو څخه موږ د پښتنو بېل او ځانته درانه او مستقل افکار او روحيات استنباط کولای سو او لکه د مخه چي مو هم وويل، دوی هر کله ځان لوړ او پردي يې کښته بلل د پردو دودونه يې نيمه خوا ګڼل او پر خپل مليت او پښتنواله يې داسي ويسا درلوده، چي د هر ظفر او بري دپاره يې خپل ځان کافي ګاڼه.

پښتانه متل کوي: "جنګ په وسله کيږي او ننګ په غله" له دې متله موږ لاندي خبري استخراجوو:

د پښتنو اجتماعي ژوندون پر جنګ او ننګ ولاړ و، د دوی عسکري احساسات په خصمانه حرکاتو کي او د ننګ جذبات په خپلوۍ او روغه کي د ژوندون مدار وه "وسله" په دوی کي مهمه او هم د اړتيا شی وه.

دې اجتماعي اړتوب دوی زراعت او کرني ته پاڅول، نو يې په اخلاقو کي زراعتي روح او د کرني قدر کول داخل سوه، دا روح که څه هم د زړو آريانانو دی او ستا د دوی زراعتي حالت ښه ځرګندوي، مګر په پښتنواله کي خو دغه زوړ روح تطور وکړ او د پښتنو روحياتو سره سم د ننګ دپاره يوه وسيله سوه، له دغه موږ ته اوځاريږي، چي د پښتنو عقليت بې نتيجې حرکت نه مانه، او د علت او معلول، او سبب او مسبب په سلسله کي بې برخي نه وه.

د اجتماعي ژوندون اساس ننګ و، نو د ننګ دپاره غله او کښت ضرور و، دې کيفيت د پښتونخوا وګړي اکثر کرونکي او زراعت پېشه کړه. "پر پچه وخوت کشمير يې وليد" دا متل موږ ته ښيي، چي پښتنو په عين ملي غرور او د ځان

Download from: ketabton.com

په ویسا کي ځان نه ورکاوه، یعني په لږ څه له هوله نه وتل او نه یې ځایه تکبر درلود، د دوی عقلیت ظرفیت او د نفوسو لوړتوب له دې متله ښکاره دی.

"د ډېرو لرګی د یوه غوزی" د پښتنو د اجتماعي تعاون روح څرګندوي، چي د مخه یې موږ په "بسپنه" کي بیان وکړ.

کله_کله په پښتو متلو کي د فلسفې ګراني_ګراني خبري هم راغلي او دا راښیي، چي د پښتنو عقلیت سوچه بدوي او غرنی نه و، د دوی په عقلیت کي ژورتوب و، مګر طبیعي رنګ یې درلود. د صنعي او موضوعي علومو نه و وهلی.

هغه فلسفي قوانین او ځلی چي منشا یې فطرت دی، یعني هغه الهی سنن چي پر موجوداتو په مطرد او عمومي ډول جاري دي او قرآن عظیم یي په (لن تجد لسنه الله تبدیلا) سره راښیي، د پښتنو په روڼ او رسا دماغ کي دغه مسلم اصول منلي سوي وه، او لکه یو فلسوف او پوه سړی چي د علم او فلسفې له پلوه تعبیر په کوي، پښتنو پخپلو سپېځلو متلو کي هغه فلسفیانه افکار او خیالات ښه ځای او فلسفې له پلوه تعبیر په کوي، پښتنو پخپلو سپېځلو متلو کي هغه فلسفیانه افکار او خیالات ښه ځای کړي دي، مثلاً دا فکر چي جهان زموږ د اعمالو د نتیجو د انعکاس ځای دی او هر سړي ته خپل عمل او د خپلو چارو جزا او مکافات رسیږي، په فلسفه کي ډېر زوړ دی، مولانا جلال الدین بلخي وایي:

این جهان کوه است وفعل ما صدا

این صدا هـــا باز گردد سوی ما

پښتانه دا قانون په اجتماعیاتو کي تطبیق کوي، او د بدي جزا تر هغه سخته ورکوي مثلاً خوشحال خان وایي:

که په توره یې جـــواب ورکړې مردي ده

که وجود دې څوك آزار کاندي په چوب

دا متقابل نتایج او متقابل حرکات د پښتنو د ننګي او اجتماعي ژوندون جوهر دی، د ښو ښه نه هیریږي؛ د بدو بدتره جزا ورکوي هغه چي له نورو غواړي، له ځانه یې هم غواړي، حمید د ناموس او ننګ په ساتنه کي لومړی د بل دا ستایي، چي خپل دا هم وساتلای سي:

چـي د بل ننګ و ناموس ساتلای نه سي

و به نه ساتي څوك خپل ننګ و ناموس

د پښتنو دا روح یا د اجتماعي فلسفې مسئله په دغه یوه متل کي ښه څرګنده سوې ده، چي:

Download from: ketabton.com

"مه کوه په ما، و به سي په تا". په دې ډول پښتو متلونه د پښتنو د روحياتو او عقليت هنداري دي که موږ وغواړو چې پر نورو متلو بحث وکړو، نو به مضمون ډېر اوږد سي، اوس مو فقط څو متله د مثال په ډول راوړه.

## قصـــــــــې

د پښتنو ملي قصې او روايات، لکه شعر او متلونه د دوی د پسيکولوژي خواصو څخه ډکي دي، د روغي ژوندون، د جنګ دودونه او آداب د عشق او ميني حالات او روحي جذبات د دوی ذهنيت او افکار د ملګرۍ او رفاقت لاري او حالونه شاعرانه حيات، شرافت، د ننګي سره علاقه مندي، توريالیتوب، دفاعي او هجومي احساسات، حتی د ښځو شريفانه اخلاق او ناموسداري او ننګياليتوب، لنډه يې دا چې پښتني قصې ټوله د پښتنوالي خواص او مزايا لري او ښکاره کوي يې.

د پښتو قصې او نقلونه چې د ځيني ملي پهلوانانو Heroes پر سيرت او حيات مشتملي دي، شاعرانه سپېڅلي خواوي هم لري، موږ د مخه وويل چې د پښتو پر عروضي شعر د پردو اغېزي ډېري خيري پرتې دي، مګر دا د نقلونو اشعار او نارې سپيني سپېڅلي دي او خاص د پښتنو په ژوند او روحياتو اړه لري، نو ځکه موږ تر عروضي اشعارو داسي بوبي او سچه پښتو نارې او بدلي د پښتنو د روحياتو په پلټنه کي مهمي ګڼو.

دوکتور ګوستاولوبون وايي :

"قصې ډېر ځله تر تاريخ صحيحي وي او د ملت حقيقي مشاعر څرګندوي، قصې هغه حوادث دي، چې د حکايت کوونکې عاقله په متاثره شوې وي "

نو د پښتو قصې هم داسي دی، چي د دوی ملي روح ښه اوڅاروي، که مضمون نه اوږدېدلای، نو ما به دا خبري ښې پستې شنلي او پلټلي وای، مګر اوس فقط مثالاً څو اشارې ورته کوم، د "فتح خان برېخ او رابيا" په نقل کي دا دواړه مينان پر ټولو واقعو سره ملګري دي پښتني ښځې په جنګ کي پخپله شامليږي او توريالۍ دي، هغه وخت چې له شپېتو تنو ملګرو څخه يوازي فتح خان او د ده پښتنه مينه پاته سوه، نو سهار رابيا فتح خان ته د جنګ تشويق داسي ورکوي:

سر د سره پالنګه هسك کړه فتح خانه

رابيا ګلي پونده ورته کړه سپريږي

چي فتح خان لا له ځايه نه و راپورته سوی، رابيا د جنګ پر آس سپره وه، د غليم مقابلې ته تله، نو يې په خپل مين داسي ناره وکړه:

Download from: ketabton.com

سر د سره پالنگه هسك كړه فتح خانه

رابيا ګلي پونده ورته كړه سپره سوه

فتح خان په داسي حماسي ږغ ځواب وركړ:

"كه تتي د ګواريو ځانګي تتي، يا مي خور يې يا مي مور يې، څو يې نكړم، پر دا سپينه سينه پڅي."

په پای كي فتح خان يوازي د جنګ پر ميدان پاتيږي، نو وايي:

"يو كه بوټی هندوستان مي بوټی_بوټی=په سپيتانه كي خلاص نه سو، اوس راواړوه د سپينو چړو موټی."

له دغو نارو څخه به د پښتنو جنګي احساسات او د دوی د ښګڅو روحي او معنوي غښتلوالی او لوړ مقام تاسي ته ښكاره سي، چي د پښتني عقل او اجتماعي مزاج او فكري ساختمان هم تر پښتون كښته او ضعيف نه و.

د پښتنو پاك او سپېڅلی ژوند او د عفت او ناموس داری حيات د پښتني اخلاقو څخه دی، يعني د پښتنوالي روح، دوی په عفت او پاك لمنی كي ساتلی دی، د ښادی او بيبو نقل زموږ په قصو كي خورا شهرت لري، عاشقانه احساسات په خورا تېز او تر هر څه اثرناك او اغېزه لرونكي دي، هم د پښتنوالي روح نسي مغلوب كولای، ښادي خو پر بيبو مين و، او بيبو هم د ده په مينه كي لېونی وه، مګر د دوی عشق هم د عفت تر سيوري لاندي و او د بيبو ته تر واده د مخه معاشقه لوی پېغور او ناوړه وه، ځكه نو چي يو وخت ښادي له بيبو څخه خوله غواړي، بيبو دا خواست نه مني او ناره پر كوي:

"چي دا ښادي هلك و ما يې تل اودې څړی=اوس چي دا ښادي را لوی سو نو د ما غواړي خولګی."

په پای كي ښادي چي پښتون ځلمی و، د دې خپل بې ځايه خواهش په پښېمانی او د دې دپاره چي ځان د دې اقدام له پېغوره وباسي، له وطنه وركيږي او كلی كور ټوله پرېږدي.

ښادي ولاړ ورك سو، تېر، كهول يې پرېښود، بيبو خو د ده په مينه كي سوځي، يوه ورځ چي د بكوا پر دښت كاروان تېرېږي، نو د دې خپل مين ور په يادېږي، وګورئ په څه آرمان ناره پر كوي:

"كاروانونه د بكوا پر دښت تيرېږي=كاروانونه د بكوا پر دښت تېرېږي، ښادي ورسره نسته، په دا نور كاروان مي مينه نه ماتيږي، زما آرمان ښادي مي بايلو."

په دې ډول د پښتو ملي قصې، لكه آدم خان او درخانی، مومن خان او شېرينی، جلات خان او شمايله، موسی خان او ګلمكۍ توردلی او شاهوګله او نوري_نوري د پښتنو د پسيكولوژي روڼي هنداري دي.

Download from: ketabton.com

## عنعـــــــــــنات

عنعنه یعني له نیکونو او تېرو پښتنو څخه، خوله پر خوله او پښت پر پښت رانقل سوي شیان او دودونه هم، لکه ژبه او شعر او قصص د ملي روح ښکاره کوونکي او څرګندونکي دي، پښتانه ډېري عنعنې لري، خورا ډېر دودونه او رسوم سته، چي له زړو پښتنو څخه معنعن تر موږ پوري راغلي دي، په پسیکولوژي تحقیقاتو کي دې خوا ته په غور کتل کیږي او دا عنعنات د فوکلور اساسي ټکي دي، زه دلته فقط څو عنعنو ته اشاره کوم:

پښتانه وایي، چي د مېړاني باد راوالوت، نو د ځینو پښتنو پر لمن ونښت، داسي پښتانه په اجتماعي ژوندون کي "لولمن" لري، دوی د ریاست او مشرتوب وړ دي، د ځینو پښتنو پر مټ ونښت، دا قومونه توريالي او ننګيالي دي، یعني حربي استعداد یې تر ټولو غالب دی، دغه باد د ځینو قومو پر ژبه ونښت، نو د دې پښتنو مرکه او نطاقي او د علم او پوهني خواص نصیب سوه، له دې عنعنې څخه د پښتنو د عقلي مزاج او روحیاتو دا درې اساسي تیرې ښکاري:

.1د ریاست او اداري مشرتوب قوه.

.2حربي استعداد او جنګي روح.

.3علم او پوهنه او وینا او علمي تلقینات.

پښتانه ښځو ته په مخصوص نظر ګوري او په پښتنواله کي د احترام مقام لري، ډېر ځله نارینه د وریندارګانو د ناموس د ساتني دپاره سرونه بایلي، حتی د پردو ملتو ښځو ته هم کټ مټ په دغسي سترګه ګوري.

د پښتنو په عنعناتو کي "د پلو روی" خورا اهمیت لري، پښتون د خورلنې پلو محترم ګڼي او تر ډېرو ګټو یا انتقامي اقداماتو تیریږي، په جنګ کي چي د مېرمن پلو منځ ته راسي، کلی مقاطعه او متارکه وسي، پښتون چي هر څومره په قهر وي، خو د پښتنې خور پلو ته ګوري او کورټ یې تش نه پرېږدي.

## ننـــــــــــواتې

ننواتي د پښتنو یو عنعنوي د عذر غوښتلو ډول دی او د کلو_کلو دښمنۍ او عداوتونه په ننواتو له منځه وځي او داسي وي، چي د یوه خورا لوی کار یا لوی خصومت د غذر او بخښني دپاره مغلوب یا مجرم سړی د خپل کلي یا کام سپین ږیري او ستانه خپل مقابل ته ورلېږي، کله_کله چي امر ډېر مهم او د بخښلو قابل نه وي، نو خپلي ښځي په ننواتي ورلېږي.

Download from: ketabton.com

دا ننواتی دومره اهمیت لري، چي پښتون مري، خو ننواتې نه کوي، مگر کې وکړه، نو د ده مقابل پښتون هم ضرور دغه مني او دی بخښي.

د پښتنو له صفاتو څخه ده، چي ننواته به نه کوي او کې وکړه، ها مقابل یې هم ضرور مني، په دې ډول نور ډېر د پښتنوالي عنعنات سته، چي ځیني یې"خادم" او "الفت" زموږ پښتنو لیکوالو لیکلي دي. له دغو ټولو څخه دا ښکاره کیږي، چي پښتانه اخلاقاً په هجومي روح کي خورا زغرد او تند او بیا په بخښنه او عفو کي هم مړني دي.

کې انتقامي جذبات تاوده دي، عفو او بخښنه او د عذر غوښتلو منښت یې هم سته.

دا وه د پسیکولوژي ځیني اساسي څلي چي موږ لنډ_لنډ څرگند او په دې لار کي مو استفاده ځني وکړه، ځکه چي مضمون اوږدیږي، او د پښتنوالي د ښېگړو احتوا هم موږ ته اوس ممکنه نه ده، نو به دا بحث لنډ کوو او فقط د پښتنوالي او پښتو ځیني تاریخي نتایج به وښیو، چي پخوا د دې پښتنوالي لمر پر نړۍ څه تجلیات درلوده، او پښتانه د دغو روحیاتو او سپېڅلو اخلاقو په اغېزو څومره لوړ سوي وه؟ او په تاریخ کي د پښتو او پښتنوالي څه نخښي سته؟ دا تاریخي کتنه به هم لنډه وي.

## د پښتنو د لمر ځلښت په تاریخ کې

د پښتنوالي روح، لکه لمر داسي دی، چي هر وخت په برېگښ او ځلښت کي و او دی. د پښتنوالي اخلاق او د پښتنو روحي او عقلي مزاج او د دوی معنوي جذبات او غرایز، د دوی سپېڅلي مشاعر داسي دي، چي هیڅ وخت یې ځان نه دی پټ کړی او پښتون ته یې تاریخي لوړتوب او شهرت هم بخښلی دی، په زړو آریانانو کي تقریباً درې تر څلورو زرو کالو د مخه هم پښتنو شهرت درلود. د هند په زاړه کتاب ریگوید کي د دوی نوم په "پکنه" سره راغلی دی. او په هغو لسو کامونو کي شمېرل سوی دی، چي دوی د آریانانو زوړ تاریخي جنگ کړی و .

نینوس او سمیلرامیس د آشور شاهانو د خپل عظمت په وخت کي هم پر باختر خپلي حملې کولې، اما د دې ځای خلکو سخت جنگونه ورسره وکړه د آشور د میخي خطو زاړه آثار چي پیدا سوي دي، دا ښیي چي 1100 کاله تر مېلاد د مخه یو آشوري بریالی تگالات فالازار Tagalath Phalazar په دوڅلوېښتو قبیلو کي اراکوتو(ارچوتوس)، هراهوتي او نیسع او نیسا هم ذکر کوي، مگر دغو قبایلو دا فاتح بیوته مات کی او ځان یې آزاد کی

ارکوتو(ارچوتوس) خو د یونانیانو آراکوسیا Arachosia یعني قندهار دی، چي په پهلوي رخوت وه او عربو رخج او رخد کړ

هراهوتي harahuate چي په اوستا کي هم راغلی او په ریگوید کي سوس وتي ذکر سوی دی، ارغنداو دی

Download from: ketabton.com

اما نیسع یا نیسا غالباً اوسنی نېش دی، چي د قندهار شمالي مغربي خوا ته کاین دی او د زاړه مدنیت آثار هم پکښې ښکارېږي، او مسعودي اسلامي مؤرخ(332هـ) د بست او داور او رخج سره یو ځای د(نېس) په ډول راوړی دی له دې څخه ښکاره سوه، چي پښتانه پخوا هم یو توریالی قوم و او د پردیو مریي توب یې نه مانه.

هیروډوټس د یونان زوړ مؤرخ چي تر میلاد د مخه (425-480) کاله اوسېدی، پښتانه د "پاکتویس Paktves "په نامه او د پښتنو اوپرېدي قبیله یې"اپاروتي" راوړې ده.

د مؤرخینو پلار هیروډوټس وایي :

"هغه خلك چي د هند شمال ته د"پاکتي ایکي" په مملکت کي پراته دي، د هستوګي ډول یې د باکتریانو(بلخیانو) دی، دوی خورا توریالي او جنګیالي دي، چي د خشیاراشا(486-465 ق م) هخامنشي فاتح سره وه او پوستینان یې اغوستي وه، لویي_لویي د غشو لېندۍ او خپلي وطني چړې(پېش قبض) یې درلودې "

هلبرانټ Hellebrandtr لیکي:

"په ریګوید کي راغلي دي، چي په اّراکوسیا(قندهار) کي یوه قبیله ده، چي (واسودیوا یې باچا او د ده زوی سوداس) و، دې قبیلې د سندهـ تر روده پوري برى وموند او جنګي کارنامې یې د افسانو او نقلو په ډول مشهوري وې تر میلاد د مخه(329-327 ق م) چي مقدوني سکندر د افغانستان پر خوا هندوستان ته تېرېدی، پښتنو د دې بریالي سره خورا سخته مقابله وکړه، د قندهار خلکو د ده سره جګړې وکړې، د نورو پښتنو په غرو کي هم سخت زحمتونه پر ورغله، د صوات په لته کي د یونان دا فاتح چي ټوله آشیا یې نیولې وه، ټپي هم سو.

د سکندر سره د پښتنو مقابله خورا شهرت لري، د پښتونخوا یو غر په یونانیانو کي خورا مشهور دی، چي د یونان زوړ افسانوي پهلوان"هرکول" هم دا غر نه و نیولی، مګر سکندر پر دې غره یرغل وکړ او پښتنو ډېر یونانیان پکښې مړه کړه.

سکندر په پای کي مجبور سو او له ټېري پر شا سو، وروسته چي پښتنو دا ځای تخلیه کړ، نو سکندر ځني تېر سو، یعني سکندر په خپل قوت پښتانه نکړه مات.

اّریان او کنټ کورث د دې غره قوم Arne (اّرن) مګر یو بل مؤرخ ډیوډوره یې Arnas لیکي چي دا غر په تاریخ کي "عجیب غر" بلل سوی، چي د پښتنو د مېړاني په سبب چا نسوای مسخر کولای او سکندر په خورا زحمت او داسي تلفاتو تر "پښتونخوا" تېر سو، چي ډېر سپاهیان یې مړه او نور خورا په ستونزو سوي وو.

د ډیورډور مؤرخ په قول، نو څکه سکندر د پښتنو له ټېري ټېرته هند ته پر دې خوا نه راغی، ناچاره سو چي د بحیرهٔ عرب پر خوا ځان ایران ته ورسوي، او ډېر عسکر یې د لوږي او تندي څخه د بلوچستان په ریګو کي مړه او په 324 ق، م کي یې ځان فهرج ته ورساوه، تقریباً درې کاله یې د پښتنو له لاسه ناورینونه ولیدل.

Download from: ketabton.com

البرمالي موْرخ ليکي:

چي د پښتونخوا په خاورو کي د يونان سپاهيانو داسي بدي ورځي وليدې چي دوی به دا خيال کاوه، چي د خپلو زړو پهلوانانو عمليات نوي کوي، دلته په دوی کي هم چمونه وسوه، لکه دوه ويشت پېړۍ وروسته چي په دغه ځای کي پر انگرېزانو راغله

له دغو تاريخي بياناتو څخه ښه څرگندېږي، چي پښتانه له پخوانو پېړيو څخه دغسي مستقل او آزاد او په مليت مغرور او توريالي او گړندي وو او د دوی د پښتنوالي روح په هغه وختو کي هم ځلېدی او شهرت يې درلود، چي ټولو موْرخينو د دوی ښېگړي ذکر کړي او د آريانانو په زړو کتابو کي يې نوم هم ذکر سوی دی.

## د گريکو بوديك مدنيت

صنايع د هر مدنيت او هر ثقافت نمايندگي په ښه ډول کوي، حتی ډېر ځله پوهان په صنايعو څخه د مللو افکار او روحيات هم معلوموي پر صنعت باندي، محيطي عوامل او سياسي او تاريخي حوادث هم اغېزه کوي.

يو صنعت چي له يوه محيطه بل ته نقل سي په دې نوي محيط کي نوی رنگ مومي او د دې محيط پر تقاضا ځان سم کي، لکه د مخه چي مو وويل د سکندر د فتوحاتو پر وخت په پښتونخوا کي ډېر يونانيان پاته سوه او چي سکندر ولاړ نو دوی په باختر کي يو سلطنت جوړ کی، دوی خپل يوناني ثقافت او مدنيت ورسره راوړی و، وروسته 600 کاله تر ميلاد دمخه د هندوستان د بودا دين هم دې خوا ته راغی، دا دوه مدنيته سره گډ سوه، د پښتنو روحي تجليات وو، چي دلته يې يو تاريخي مدنيت چي نه د هند و، نه د يونان ايجاد کئ، دا مدنيت او صنعت چي د پښتونخوا د خلقو قريحې او د دوی محيطي او اجتماعي او روحي عواملو منځ ته راوړی و، د اسلام تر راتلو پوري دلې و، په باميان، باختر قندوز او د کابل شمالي خواوي، هډه، پېښور، ټکسيلا او د اټك ها خواته يې ډېر ښه_ښه آثار اوس هم موندل کيږي. د دې صنعت نفوذ اوسنيو موْرخينو لکه: هاکن فرانسوی، فوشه، جون مارشل انگليس، گوډار او نورو په ښه ډول پلټلی دی او دا را ښکاره کوي، چي د پښتنو تاريخي عظمت د صنعت او فکر او فلسفې او سياست له خوا هم خورا ټينگ و. او اغېزې يې په هند کي تر کشميره پوري تللي وې، لکه د کشمير د ډورك او ټکسيلا د اولي اونك ستونونه چي دا اغېزې ښه ښکاره کوي

Download from: ketabton.com

## د عربو او اسلام برى

موږ د مخه د پښتنو د روحياتو په بحث كي وويل، چي دوى زاړه مبادي ښه ساتي او چي نوي مبادي يې ومنل بيا يې نو ژر پرېږدي.

د اسلام مقدس دين چي پښتنو ته راغى، نو دوى لومړى د مسلمانانو سره ډېري سختي مقابلي وكړې، مگر وروسته چي دوى دا مقدس دين قبول كئ، نو يې داسي فداكارۍ ورته وكړې، چي يو لوى مملكت، لكه هند د دوى په توره د اسلام په دين مشرف سو .

احمد بن يحى بغدادي اسلامي مؤرخ چي په بلاذري مشهور دى په(255 هـ) كي ليكي:

"د هجرت په 30 كال ربيع بن زياد بن انس حارثي د سيستان له خوا په هرمند او داور راغى او وروسته يې بست او زابل(قندهار) فتحه كړ، مگر د سيستان د رزنج خلكو څپل اسلامي امير ايستلى و، نو حضرت علي(رض) بېرته د جمل تر جنگ وروسته ونيوى، د حضرت معاويه(رض) په عصر كي بيا مسلمانانو هغه ځايونه ونيول، چي خلك يې له اسلامه بېرته اوښتي وه، كابل هم په دغو كي و، وروسته بيا د كابل پاچا رتبيل مسلمانان و ايستل، مگر بېرته مسلمانانو كابل، بست، رخج، داور ونيول، د عبدالملك بن مروان(65-86 هـ) په عصر كي بيا د رتبيل سره جنگونه وسوه او دا خواوي له 30 څخه بيا تر 100 هـ كاله مسلمانانو څو واره فتح كړې "

په دې ډول پښتنو لومړى د مسلمانانو فاتحينو سره كلكي مقابلې وكړې، مگر وروسته چي د اسلام په پاك دين سو، نو بيا يې دې دين ته ښې فداكارۍ وكړې، هغه وخت چي د سند اسلامي فاتح محمد بن قاسم د 90 هجري كال په حدودو كي ملتان او سند فتح كول، د دې اسلامي بريالي سره پښتانه هم وه او پر هغه خوا يې اسلام خپور كئ.

په (375 هـ) كي د پښتنو لوديانو څخه يوه بريالي شېخ حميد په ملتان كي د سلطنت اساس كېښود، دې پښتون او د ده كورنۍ تر ډېره په پښتنواله خپله پاچهي وچلوله او د هندوستان د راجگانو څخه يې ځان وساتى.

وروسته چي امير ناصر سبكتگين په 367 هـ كي د غزني پاچا سو، پښتانه د دې پاچا ملگري سوه او دې پاچا هم د زابل(قندهار) له پښتنو سره خپلوي وكړه، ځيني مؤرخين وايي، چي د ده په لښكر كي چي د هندوستان د حملو دفاع يې كوله، دوه زره يا لس زره ، پښتانه وه د ملتان له لوديانو سره هم د سبكتگين د خپلوۍ له امله دوستانه روابط درلوده.

تر دې وروسته د سبكتگين زوى زابلي محمود چي مور يې د كندهار پښتنه وه، د غزني شاهنشاهي لوړه كړه، پښتنو د خپل خوريي سره ډېر كومكونه وكړه ، د هندوستان فتوحات او د بخارا، ايران برى ټوله د پښتنو په توريالیتوب وه، يميني د غزنوي عصر مؤرخ وايي: چي پښتانه د اجل په څېر يا د وږي زمري په ډول پر غليم ورتله، پر كوتلو خاته، لكه برېښنا پر زنگلو ننواته، لكه هوسۍ پر غرو لوړېده، لكه سېل په غرو كي شېوه كېده "

Download from: ketabton.com

یو پښتون د هندوستان په فتوحاتو کي د پښتنو مېړانه په دې بیتو کي په فخر او حماست بیانوي:

تـــر کـــو نامردو داسي ودنګل له نام و ننګه

زه یو پښتون وم چي ولاړ وم د سلطان تر څنګه

توره په لاس په ســـــره اور د عرصات وختم

له بت شکن ســره بــــه دژ د سومنات وختم

پښتانه مؤرخین د پښتنو جنګي مشرانو او ملکانو نومونه، چي د سلطان محمود په لښکر کي وه، بیانوي، یو جنرال یې خالو خان و، په دې لنډۍ کي هم له ګومله د دې جنرال د لښکرو راتګ ښوول سوی دی:

چي د خالو لښکري راســـــــي!

زه به ګومل ته د خپل یار دیدن له ځمه

دغه د پښتنو کومك و، چي د محمود زوی مسعود د ایران په فتوحاتو کي موْفق او وروسته یې وغوښته چي ولاړ سي، بغداد هم فتح کي او د اسلامي خلافت مرکز غزني ته رانقل کي او غزنوي شاهان د ایشیا او اسلام په پاچهۍ ومنل سي

تر غزنوي پاچهانو وروسته د غور پښتانه بریالي سوه، دوی هم د پښتنوالي د روح په برکت ټوله هند فتح کړ، د غوري سلطان شهاب الدین مېړاني د قطب الدین ایبك بریالیتوب او بیا په هند کي د پښتنو پاچهانو کارنامې تاریخ نسي هېرولای، د سوریانو پښتنو شاهي، خو په هند کي د عدالت او عظمت او مدنیت دوره وه، د شېرشاه سوري عمرانات او د ثقافت او تمدن خدمتونه د تاریخ په زرو لیکي تر اوسه هم د هند په مختلفو ریاستونو کي د دغو پښتنو کورنۍ حکمراني لري.

د کورګانیانو په پاچهۍ کي چي لومړی پښتانه د بابر په ملاتړ ودرېدل او هند یې ورسره فتح کړ، وروسته د ډهلي ګورګانیانو وغوښته چي د دوی خپل فطري حق یعني آزادي ځني سلب کړ، مګر پښتنو خو مریي توب نه مانه، نو په دې دوره کي پښتانه ټوله پر خپله ننګه ولاړ وه، چي تر پایه یې خپله آزادي له لاسه ورنه کړه.

د پښتنو ملي پهلوان او نامتو سردار او ادیب خوشحال خان خټك د دې ملي جنګو سردار و او د پښتنو ملي ادیبانو د خټکو کورنۍ او د مومندو توریالیو د پښتنوالي د استقلال غوښتنو روح ښه ښکاره کړ او د ګورګانیانو پر خلاف یې په خپل ملت کي داسي تبلیغات وکړه، چي په پای کي د پښتنو له مریي توبه ناکامه سوه.

پخپله په افغانستان کي هم پښتانه د برم او جلال خاندان وه، د هوتکو او مرحوم حاجي میرویس خان مېړانه او د ده د کورنۍ محمود او اشرف فتوحات خو ښکاره دي.

Download from: ketabton.com

بیا د نادر افشار په مقابل کي د پښتنو ټینګار د پښتنوالي یوه نندارہ وه، د هرات د ابدالیانو جنګونه د دې فاتح سره مشهور دي، یو کال د قندهار ښار محاصره وه، په دې په پافشاري کي د پښتون شاه حسین او سیدال خان ناصر سپه سالار مېړانه زموږ نه هیریږي .

د هند له خوا چي نادر افشار بېرته راځي، دې فاتح د خپلو غنایمو د ساتني لپاره د خیبر پښتنو ته د لاري جحه ورکړه، نو څني راتېر سو ، څکه چي ده ته د پښتنو د توري بریښ ښه ښکاره و.

تر نادر افشار وروسته چي اعلیحضرت لوی احمدشاه بابا د پښتنو باچا سو، نو دې ښاغلي پښتون د پښتنو د پښتنوالي لیاقت او کشورکشایي ښه وچلوله، احمدشاه بابا د خپل ښاغلي پښتون ملت په ملګرۍ او توره اووه اته واره پر هند یرغلونه وکړه، د هند مسلمانان یې د کفارو له تسلطه وژغورل د مرهټو جنګ د هندوستان له لویو جنګو څخه دی، چي پنځوس شپېته زره پښتانه تقریباً لسو لکو تنو سره وجنګېدل، ټوله یې مات کړه، تر دوو لکو تنو پوري یې مړه کړه او مرهټیانو ملا یې ور ماته کړه اې مارسډن انګلیسی مؤرخ وایي:

"احمدشاه په آسانۍ سره د ډهلي پاچا سو او لکه محمود غزنوي او محمد غوري څو واره یې پښتانه په هندوستان راوبهول" . . .

کرانټ ډفه انګلیسی مؤرخ لیکي:

"د پاني پت جګړه د هندوستان د مهابهارت تر جګړې وروسته لو جګړه ده، په درو ورځو کي پښتنو لویه فتحه وګټله "

یو پښتون شاعر برهان خان چي په دې فتوحاتو کي د احمدشاه بابا سره و، د دې جنګ سببونه د پښتانه شهنشاه له خولې داسي بیانوي:

احــــمدشاه بادشـــــاه په جارو وویله

د غـــــزا په نیـــت ووزمه له کابله

یا به قتل کړم کفار په هندوستان کي

یا به پرې کړمـه کله پرې باندي خپله

په دې ډول احمدشاه بابا د پښتنوالي په ننګه هندوستان ته څو واري ولاړ، او د خپلو اسلافو محمد او محمود یاد یې تازه کړ، د پښتنو لویه لمن له دې ښه ښکاریږي، چي احمدشاه بابا که څه هم هند فتح کړ، بخارا یې ونیوله، پر خراسان یې تسلط وموند، مګګر په دغو سرو هیوادو کي یې د هغه ځای بادشاهان بېرته په شاهۍ کښېنوله او د پښتنوالي لوړ همت او عالیجنابي یې ثابته کړه، تر احمدشاهي دورې وروسته هم د پښتنوالي روح مړ نه و، ډېر ځله

Download from: ketabton.com

يې شاوخوا بريښ کاوه، وزير اکبرخان غازي د کابل او جلال آباد جهادونه او د سردار محمدايوب خان غازي د ميوند غزا او بيا د غازي محمدنادر شاه شهيد د ټل او جنوبي خوا جهادونه نه هيروي.

تر دې ځايه مو د پښتنوالي د ورځ ځيني رڼاوي او برېښناوي په تاريخي ادارو کي ښکاري کړې، دا خو يوه لنډه تاريخي کتنه وه، که مو مفصل ليکلای، نو د پښتنو د توري او اخلاقي اقتدار پرته، د دوی مدني او عمراني او ادري خدمتونه هم ډېر دي، چي ليکل يې ښېل_ښېل کتابونه غواړي، په پښتنو کي علما او د فن او پوهي خاوندان او بريالي شهنشاهان او نامتو دلاوران او پهلوانان تېر سوي دي، لنډه خو يې دا چي د پښتنوالي روح يو ژوندی او نه مړ کېدونکی روح دی، چي نن ورځ پر پښتنو او د دې زمانې پر ځلمو لازمه ده، چي خپل مفاخر او د پلرو او نيکو د پښتنوالي ښېګړي را ژوندۍ کي او د خپل مليت په روڼ تاريخ ووياړي، ما دا څو کرښي د پښتنوالي په علمي پلټنه او سپړنه کي اوس وکښلای سوې او خپلو پښتنو ته مي وړاندي کړې، ګوندي د تېرو پښتنو اروا خوښ او د اوسنيو ځلمو لپاره د پښتنوالي درس وګرځي.

Download from: ketabton.com

## نتیجه

تر دې ځایه مو د پښتنوالي د ورځ ځیني رڼاوي او برېښناوي په تاریخي ادارو کي ښکاري کړې، دا خو یوه لنډه تاریخي کتنه وه، که مو مفصل لیکلای، نو د پښتنو د توري او اخلاقي اقتدار پرته، د دوی مدني او عمراني او ادري خدمتونه هم ډېر دي، چي لیکل یې بېل_بېل کتابونه غواړي، په پښتنو کي علما او د فن او پوهي خاوندان او بریالي شهنشاهان او نامتو دلاوران او پهلوانان تېر سوي دي، لنډه خو یې دا چي د پښتنوالي روح یو ژوندی او نه مړ کېدونکی روح دی، چي نن ورځ پر پښتنو او د دې زمانې پر ځلمو لازمه ده، چي خپل مفاخر او د پلرو او نیکو د پښتنوالي ښېګړي را ژوندۍ کي او د خپل ملیت په روڼ تاریخ وویاړي، ما دا څو کرښي د پښتنوالي په علمي پلټنه او سپړنه کي اوس وکښلای سوې او خپلو پښتنو ته مي وړاندي کړې، ګوندي د تېرو پښتنو اروا خوښ او د اوسنیو ځلمو لپاره د پښتنوالي درس وګرځي.

Download from: ketabton.com